مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۸/۲۴

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(دوه ویشتمه برخه)

**د سولې عالي شورا، د جنګسالارانو په ولکه کې**

په افغانستان کې له طالبانو سره د سولې په برخه کې د حامد کرزي او اشرف غني لویه تېروتنه دا وه چې د سولې عالي شورا مشران یې د طالبانو لومړۍ درجه دښمنان او د اشغالګرو لومړۍ درجه غلامان او لاس پوڅي ټاکلي وو چې نه افغان خاورې او نه افغان ملت ته ژمن کسان وو. په تېرو پاڼو کې مو ولوستل چې ولسمشر حامد کرزي د سولې د کمیسیون مشر صبغت الله مجددي ټاکلی ؤ، صبغت الله مجددي او کورنۍ یې په افغانستان کې ښه مخینه نه لري، د هېواد په معاصر تاریخ کې د دوی د کورنۍ ډېرې مشران د بهرنیانو په پلوۍ دریدلي دي، له بده مرغه زموږ ځینې ساده خلک د دوی پر ظاهري تقوا غولیدلي او د دوی په فتواګانو یې خو ځلې هېواد وران او ویجاړ کړی دی. صبغت الله مجددي د خپلو پلرونو په څېر له امریکایانو ملاتړ وکړ، هغه مهال چې حامد کرزي له امریکایانو سره د ستراتیژیک تړون له لاس لیک کولو انکار وکړ، مجددي د سولې په مشورتي جرګه کې د زرګونو افغانانو پر وړاندې، حامد کرزي ته په جدي او تونده لهجه وویل چې له امریکایانو سره تړون لاس لیک کړي، **که نه زه خپه کېږم او هجرت به وکړم!** کرزي یې په ځواب کې وویل: ورځه ولاړ شه. مجددي له خپلو پلرونو زده کړي وو چې که د هېواد مشرانو او پاچاهانو به د دوی غوښتني ونه منلې نو د هغوی پر خلاف به یې د انګرېزانو تر واک لاندې سیمو ته، له اسلامي خاورې او حکومت څخه د کفار ترلاس لاندې سیمو ته هجرت کاوه.

صبغت الله مجددي د سولې کمیسیون مشر، د دې پر ځای چې طالبانو ته د یو سپینږیري دیني عالم په توګه نصیحت او ښوونه وکړي د طالبانو پر وژونکو بریدونو یې په سختۍ سره نیوکې کولې، هغه وو چې په ۱۳۸۴ل. ل، کال کې د طالبانو تر یوه ناکام برید لاندې راغی، له برید وروسته مجددي تونده وینا وکړه ویې ویل:«د طالبانو (...) بریدکوونکي فکر کوي چې مخامخ به جنت ته ولاړ شي خو حقیقت دا دی چې هغوی مخامخ دوزخ ته درومي.»د سولې مشورتي جرګه چې په ۱۳۹۸ل. ل کال کې د حامد کرزي لخوا راغوښتل شوي وه، وروسته له هغې حامد کرزي د سولې د عالي شورا په نوم یو بنسټ رامنځ ته کړ او مشر یې وټلی جنګسالار برهان الدین رباني د جمعیت دلې مشر او د طالبانو ستر دښمن وټاکه، د جمعیت ډله د رباني په مشرۍ له طالبانو سره په کلونو، کلونو جګړې کړي وې او دا مهال چې نوموړی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

د سولې شورا مشر ؤ، د ده ډله ټپله په هېواد کې له امریکایانو سره څنګ په څنګ د طالبانو پر وژنو او ځپلو لګیا وه. هغه وو چې رباني په ۱۳۸۹ل. ل، کال کې د طالبانو په یو برید کې ووژل شو. له رباني وروسته د ده زوی، صلاح الدین رباني د شورا مشر وټاکل شو، په صلاح الدین رباني پسې پیر سید احمد ګیلاني او له هغه وروسته د هزاره ګانو د وحدت ګوند یو مشر جنګسالار کریم خلیلي د شورا مشر شو، کریم خلیلي او ډلې یې له طالبانو سره ډېرې جګړې کړې وې او د طالبانو د امارت په پرځولو کې له امریکایي ځواکونو سره همکار ؤ، له هغه وروسته د جمعیت یو بل جنګسالار ډاکټر عبدالله د سولې مشر شو چې دا هم د طالبانو په لومړۍ درجه دښمنانو کې شمېرل کېدهٔ.د سولې شورا په مشرانو کې، پرته د پیر سید احمد ګیلاني څخه نور ټول د طالبانو برحال دښمنان وو، پیر سید احمد ګیلانی په افغانستان کې له روسانو سره په جهاد کې ښه ونډه درلوده، په کورنیو جګړو کې ښکېل نه ؤ، له طالبانو سره یې کومه دښمني نه لرله، تر دې چې د ملا محمد عمر پر مړینه یې غمرازي هم ښکاره کړې وه خو دا داسې وخت ؤ چې حالات د طالبانو په ګټه وو، طالبانو نه غوښتل له جمهوري حکومت سره سوله وکړي له دې امله پیر ګیلاني هم اغیز نه درلود او پایله یې منفي وه.د طالبانو دغو ۲۵ کلنو دښمنانو فکر کاوه چې د طالبانو پر وړاندې یې هېڅ نه دي کړي، دوی به د سولې ناري وهلې طالبانو به وژونکي بریدونه پرې کول، د سولې شورا مشران چې ټول پېژندل شوي جنګسالاران وو، **په حقیقت کې لېوانو د پسونو څرمنې اغوستې وې.**

نه یوازې د سولې شورا مشران د طالبانو دښمنان وو بلکې د سولې شورا ټیټ پوړي ډېری کسان هم له طالبانو سره په دښمنیو کې ښکېل وو، هغه پلاوي چې له طالبانو سره د مذاکرو په موخه استول کېدل ډېری یې د طالبانو مالوم الحاله قاتلان ګمارل کېدل. پوښتنه دا ده: دا امکان لري چې مقتول پر خپل قاتل وژاړي او باور پرې وکړي؟

د سولې کمیسیونه، د سولې عالي شورا او نورې مخکښې ادارو او اشخاصو نه یوازې دا چې جمهوري نظام یې ونهٔشو ژغورلی بلکې د جمهوریت په پرځولو کې یې د خپلې ناپوهۍ له کبله خپله ونډه ترسره کړه، دوی ونهٔشول کولی چې له مرګ ژوبلې خلک وژغوري بلکې پخپله هم په کې ووژل شول.

هغه مهال چې ولسمشر اشرف غني، پیر سید احمد ګیلاني د سولې د عالي شورا د مشر په توګه معرفي کاوه ویې ویل چې په مرکز او ولایتونو کې تر اوسه پورې د سولې شورا څلوېښت تنه غړي وژل شوي دي. (۱۳۹۴/۱۲/۴ل. ل)

نه یوازې دا چې د سولې عالي شورا د جمهوریت په سقوط کې برخه واخیسته، بلکې په میلونونو ډالر زیان یې هم واړاوه، په لومړیو کې بهرنیو هېوادونو د سولې له عالي شورا سره په میلیونونو ډالره مرستې وکړې تر څو شورا په ښه توګه خپلې چارې ترسره کړي خو وروسته چې بهرنیان د شورا په بې کفایتۍ پوه شول نو خپلې مرستې یې کمې یا بندې کړې.

د نوموړې شورا غړو چې ټول شمېر یې په کابل او ولایتونو کې ۳۴۹ تنو ته رسیده، «هره میاشت یې ۵۳۰زره امریکایي ډالر تنخواوې ترلاسه کولې، د سولې عالي شورا لوړپوړو چارواکو تنخواوې چې ۱۶تنه وو، په میاشت کې ۶۶زره، ۳۶۴ ډالرو ته رسیدلې او تر ټولو لوړه تنخوا ۱۸زره ډالر وه.
د شورا د دارالانشاء کارکوونکو چې ۹۲ تنه وو، میاشتنۍ تنخوا یې ۹۲زره ۸۳۰ ډالر وه چې لوړه تنخوا یې ۷۰۰۰ ډالرو او ټیټه یې ۲۰۰ ډالر وه.
د شورا اداري، ترانسپورټي او امنیتي کارکوونکي چې ۷۶تنه وو ۲۴زره ۶۹۱ ډالر تنخوا ترلاسه کوله چې لوړه یې له ۱۰۰۰ ډالرو پورته او ټیټه یې ۲۰۰ ډالر وه.
د هېواد په ۳۰ ولایتونو کې د شورا د ۱۶۵ کارکوونکو میاشتنۍ تنخوا ۳۴۶ زره ۷۵۰ ډالرو ته رسیدله چې لوړه یې ۱۴۵۰ ډالر او ټیټه یې ۲۲۰ ډالر کېدله. https://farasu.net/1421/

نېټه: ۱۴۰۲/۶/۱ل. ل

**نور بیا**

د لیکوال: آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ